د سمدستي خپلوي لپاره
د ۲۰۱۷ کال مارچ میاشتې ۲مه نېټه
د امریکا نړیواله پراختیایي اداره
د عامه اړیکو څانګه
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
وېبپاڼه: www.usaid.gov/afghanistan

مطبوعاتي اعلامیه

د امریکا نړیوالې پراختیایې ادارې په افغانستان کې د لمړنیو ټولګیو د لوست مهارت پیاوړي کولو په موخه د ۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت یو پروګرام پیل کړ

کابل ، افغانستان —نن د امریکا نړیوالې پراختیایې ادارې(USAID) د افغانستان پوهنې وزارت سره په نږدي همغږۍ د لمړنیو ټولګیو د لوست مهارت د لوړولو(EGR)په برخه کې د لمړي ټولګي څخه تر دریم ټولګي زده‌کوونکو لپاره د *«افغان ماشومان یې لولي»(ACR)* تر نامه لاندې یوه‌پنځه کلنه پروژه‌په رسمي توګه پیل کړه.

په افغانستان کې د پوهنې په برخه کې د شوو پرمختګونو سره سره بیا هم د لوړ کیفیت لرونکو ښوونیزو خدمتونو ته لاس‌رسی یوه ننګونه ده. د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د دغې ستونزې هوارولو په موخه د «افغان ماشومان یې لولي»پروژې باندې د ۷۰ میلیونه ډالرو پانګونه کوي. دغه پروژه به په دولتي او سیمه‌ایزوښوونځیو کې د ابتدائیه کچې د لمړي ټولګي څخه تر دریم ټولګي زده‌کوونکو(انجونو او هلکانو) د لوست مهارت پیاوړي کولو کې مرسته وکړي. د *«افغان ماشومان یې لولي»* پروژه به د پوهنې وزارت ته دا وړتیا ور وبښي چې د ابتدائیه کچې زده‌کوونکو د سواد او د زده‌کړې مهارتونو ښه کولو په موخه د لمړنیو ټولګیو د لوست مهارت تر ټولو غوره معیارونو څخه ګټه واخلي.

د دغې پروژې په پرانیستې غونډې کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لمړۍ مېړمنې اغلې لورا غني ، د امریکا متحده ایالاتو سفارت ځانګړي شارژدافیر ښاغلي هوګو لورینس ، د پوهنې وزارت معین ښاغلي راحیل فورمولي ، په افغانستان کې د امریکا نړیوالې پراختیایې ادارې رئیس ښاغلي هربرټ سمیټ ، د پوهنې وزارت چارواکو ، د ملګرو ملتونو ادارو استازو ، د ملي او نړیوالو ښوونیزو بنسټونو ، مدنې ټولنې او د پوهنې سکتور نورو شریکو غاړو رئیسانو ګډون کړی وو.

د امریکا متحده ایالاتو سفارت ځانګړي شارژدافیر ښاغلي هوګو لورینس په دي اړه وویل «د امریکا متحده ایالاتو حکومت د پوهنې ودې ته ژمن دی ، او موږ د ډیرې لیوالتیا سره په دې باور یو چې پوهنه د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره تر ټولو غوره او ډاډمنه لاره ده.» هغه زیاته کړه « د *«افغان ماشومان یې لولي»* پروګرام د دغې ارزښتمنې ژمنې یوه بیلګه ده او دغه پروګرام به په مستقیمه توګه د لمړنیو ټولګیو یو میلیون نه ډیرو زده‌کوونکو تهغوره فرصتونه چمتو کړي.»

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لمړۍ مېړمنې اغلې لورا غني وویل « ښه ښوونه تر ټولو هغو ډالیو چې موږ یې خپل ماشومانو ته ورکولای شو غورهده او په ژوند کې د هغوي بریالیتوب د هغو د پوهې کچې پورې تړاو لري.» هغې زیاته کړه «زه هغه ټولې هڅې هڅوم او ښه راغلاست یې کوم چې په افغانستان کې د پوهنې وضعیت ښه کوي.»

د *«افغان ماشومان یې لولي»* پروژه د ابتدائیه ښوونې لپاره د امریکا نړیوالې پراختیایې ادارې له خوا تمویل شوی نوښت دی. دغه پروژه په افغانستان کې د لوړ کیفیت لرونکو ښوونو ته د انجونو او هلکانو برابري‌لاس‌رسی‌پراخولو او د لمړنیو ټولګیو هلکانو او نجونو لپاره د سنجش وړ لوست پایلو ترلاسه کولو په موخه رامنځته شوي. د *«افغان ماشومان یې لولي»*پروژه به د دولتي او سیمه‌ایزو ښوونځیو لمړیو دوهمو او دریمو ټولګیو ته په دري او پښتو ژبو کې د لمړنیو ټولګیو لوست مهارت یو شواهد بنسټه پروګرام چمتو کولو لپاره د پوهنې وزارت وړتیا لوړولو له لارې د ښوونیزو خدمتونو څخه ملاتړ وکړي.

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیایې پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردو ډالرو څخه ډیرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیایي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندي کوي. د امریکا نړیواله پراختیایي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملګرتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشري اقتصادي ودهتضمین ،یو دیموکراتیک او ځواکمن دولت چې د قانون حاکمیت له لوري حکومت وکړي رامنځته ،او ټولو افغانانو ته لمړني روغتیایي او پوهنیز خدمتونه چمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیایې ادارې له لورید څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ ګوډ ګوډته بشري او اقتصادي مرستې چمتو کړي دي.

د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په فلکړ کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په یوټیوب کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په ټویټر کې | د آمریکا نړیواله پراختیایي اداره په فیسبوک کې